مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د کب دریمه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۱مه | ۶۸۳مه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### عروج د لوړو زده کړو موسسه

عروج د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو او استادانو د وړتیاوو لوړولو په موخه، په یاده موسسه کې د عملي کار او زده کړو لپاره د پام وړ ښه امکانات برابر کړي دي.




### کرنې ریاست: په ننګرهار کې پر ۱۷۵۰ مالدارانو د څارویو خوراکي توکي وېشل شوي



د ننګرهار د کرنې ریاست، د کرنې وزارت له دویم ملي لومړیتوب څخه د ملاتړ پروژې (SNaPP2) په همکارۍ د دغه ولایت په ۱۴ ولسوالیو کې په ۱۷۵۰ بېوزلو مالدارانو د څارویو ۸۸ مټریک ټنه متراکم خوراکي توکي وېشلي دي.
د ننګرهار د کرنې رییس انعام الله صافی وایي، چې د یاد ولایت د پچیراګام، چپرهار، روداتو، مومندرې، لعلپورې، بټي کوټ، غني خېل، ګوشتې، کامې، کوزکونړ، دره نور، بهسود او خوګیانو ولسوالیو پر ۱۷۵۰ بېوزله مالدارانو د څه باندې ۲.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ۸۸ مټریک ټنه د څارویو متراکم خوراکي توکي وېشل شوي دي.
صافی وایي، چې د یادو حیواني خوراکي توکو د وېش موخه مالدارانو ته د متراکمو خوراکي توکو دودول، د مالدارانو هڅول، د لبنیاتو او غوښو زیاتوالی، د مالونو ښه روزنه، د مالدارانو ملاتړ او په بېړنیو حالاتو کې له مالدارانو سره د څارویو د خوراکي توکو مرسته کول دي.

# په چاودنو د اونۍ پیل؛

## په کابل ښار کې درې پرله‌پسې چاودنو پنځه کسه ووژل



۳

خلک باید ومني چې چاودنې یې د ورځني ژوند برخه ده؟

۲ مخ

د پېړۍ تر ټولو لوی دروغ او تر شا یې پټه توطیه

۲ مخ


د وېرې او وحشت خپرول د اسلام خلاف او د منافقینو کار دی

۳ مخ

## صالح: پاکستان لا هم د طالبانو هر اړخیز ملاتړ ته دوام ورکړی

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح یو ځل بیا ویلي، چې له طالبانو د پاکستان هر اړخیز ملاتړ پر خپل حال پاتې دی.
نوموړي زیاته کړې، چې د پاکستان په اړه د ناټو له عمومي منشي سره د ولسمشر غني ټلیفوني مکالمه له طالبانو څخه د دغه هېواد د ملاتړ په اړه د نظر د شریکولو لپاره غوره فرصت و. صالح ویلي، پاکستان هممهاله غواړي دوه ډوله لوبه مخکې یوسي او هغه دا چې دا هېواد هم د طالبانو وسله وال ملاتړ کوي او هم د دوی د ستراتېژیک ملاتړي په توګه هڅه کوي ځان نړۍ ته د سولې غوښتونکی وښیي.
نوموړي دغه راز ویلي چې که له طالبانو سره د پاکستان وسله وال ملاتړ نه وي، نو شپږ میاشتې هم دوام نه شي کولی. دا په داسې حال کې ده چې پر امرالله صالح سربېره، تر دې وړاندې نورو افغان چارواکو هم په پاکستان تور لګولی چې له طالبانو او نورو وسله والو ډلو ملاتړ کوي او دغه راز د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي، خو پاکستان بیا دغه ډول ادعاوې ردوي.
تازه د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي ویلي، هېواد یې د افغانستان په چارو کې له لاسوهنې سره هېڅ علاقه نه لري. د جیو نیوز د راپور له مخې، قریشي زیاته کړې چې پاکستان تل هڅه کړې، چې افغانستان تلپاتې سولې ته ورسېږي، خو له دې سره سره ځینې هېوادونه او ځانګړې کړۍ وربانديې د نه همکارۍ تور پورې کوي.

## له ډیپلوماټیکو لارو د افغانستان د ۲۰ کلنې جګړې د پای ته رسېدو ملاتړ کوو



۲ مخ

## محمدعمر داودزی برای پی‌گیری گفتگوهای صلح به پاکستان می‌رود




محمدعمر داوودزی نماینده ویژه دولت افغانستان در امور پاکستان به پاکستان می‌رود تا از مقام‌های آن کشور بخواهد که طالبان را تشویق به ازسرگیری گفتگوهای صلح کند.
او گفته است که هدفش از این سفر درخواست از مقام‌های پاکستانی برای تشویق طالبان به از سرگیری گفتگوهای صلح در قطر و موافقت با آتش‌بس کوتاه‌مدت است.
آقای داوودزی گفت که پاکستان باید در این زمینه اقدامات عملی روی دست گیرد.
آقای داوودزی افزوده است: «موضوعات که زیاد است، اما عمده‌ترین آنها از سرگیری روند گفتگوهای صلح و تاکید عمده روی آتش‌بس است. در کنار آن موضوعات دیگری هم هستند، اما دلیل عمده این سفر بحث روی گفتگوهای صلح است.»
محمدعمر داوودزی همچنین تاکید کرد که این سفر در ادامه سفر چندی پیش عمران خان صدراعظم پاکستان به افغانستان انجام می‌شود. آقای داوودزی گفت که پاکستان به امریکا کمک کرده تا با طالبان به توافق برسد و امیدواری دولت افغانستان نیز این است که دولت پاکستان فشار آورد تا طالبان به میز مزاکره حاضر شوند.
او گفت که پاکستان باید از خواست مردم افغانستان برای آتش‌بس حمایت کند و طالبان را تشویق کند تا با آتش‌بس موافقت کنند. به گفته آقای داوودزی، پاکستان وعده داده که در کاهش خشونت همکاری کامل داشته باشد. او در این سفر از دولت این کشور می‌خواهد که به وعده‌اش عمل کند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### خلک باید ومني چې چاودنې یې د ورځني ژوند برخه ده؟

پرون سهار یو ځل بیا په کابل ښار کې درې چاودنې وشوې. چاودنې یوه پر ملکي او دوې پر نظامي موټرو وې چې پکې پنځه کسان وژل شوي او څو نور ټپیان دي. د دغو بریدونو ډول چسپکي ماین ګڼل شوی، چې له چاودنې وروسته موټرونو اور اخیستی دی.
له دې سره پرون په زابل او ارزګان کې هم د چسپکي ماین چاودنې شوې دي. د پخوا په شان هېڅوک د دې پېښو پړه نه مني. حکومتي چارواکي بیا هم دا چاره د طالبانو کار ګڼي. د ملي امنیت رییس احمدضیاء سراج پرون یو ځل بیا ویلي چې دا چاودني طالبان کوي، خو پړه یې نه اخلي، ځکه چې غواړي د بې باورۍ فضا رامنځ ته کړي او په عامه ذهنیت کې پر حکومت فشار راولي.
دا بحث یوه خوا چې دا بریدونه څوک کوي، خو ایا خلک ومني چې چاودنې یې د ورځني ژوند برخه ګرځېدلې ده او باید وېې زغمي؟
په دې اړه ډېر بحثونه شوي چې د چسپکي ماینونو وروستۍ څپه چا پیل کړې او څه غواړي. حکومت طالبان ملامتوي او طالبان حکومت، خو ځیني کارپوهان بیا په دې چاره کې تر حکومت او طالبانو ور هاخوا د نورو کړیو د ښکېلتیا خبرې هم کوي. دا چې هر څوک کوي او د هرې موخې لپاره یې کوي، دا یو اړخ او آن خلک به له حکومتي چارواکو سره ومني چې دا کار طالبان کوي، خو بل اړخ دا دی چې تر کله به دا بریدونه دوام کوي او ولې یې مخه نه نیول کېږي؟
د حکومتي چارواکو دنده یوازې دا نه ده چې وسله وال مخالفین یا بل څوک پړه وګڼي او یا هم له خلکو سره خپل سیاسي تحلیل شریک کړي چې د دغو بریدونو موخه څه ده، بلکې د حکومت اصلي دنده دا ده چې د دغو بریدونو مخه ونیسي. څنګه شوني ده چې هره ورځ دا پېښې وشي او آن ځیني ورځې درې او څلور پېښې وشي، خو بیا هم د پېښو مخنیوي نه کېږي. حکومتي ویندویان او چارواکي ادعا کوي چې د ځینو پېښو عاملین یې نیولي، خو دا څنګه د چسپکي ماینونو او چاودنو سیلاب دی چې مخه یې نه نیول کېږي!؟ حکومت چې د ځینو کسانو د نیولو ادعا کوي، هغه له پېښو وروسته نیول شوي. ولې دا له پېښو وړاندې نه نیول کېږي؟ زموږ امنیتي ځواکونه، په ځانګړي ډول استخبارات او پولیس ولې د دې څپې په مخنیوي کې پاتې راغلي دي؟ دوی پر څه بوخت دي؟ څنګه ممکنه ده چې په یوه ښار کې هره ورځ داسې پېښې وشي، خو استخبارت او امنیتي ځواکونه یې جرړې پیدا نه کړي او له بیخه یې ونه باسي؟ اوس له هر افغان او په ځانګړي ډول له هر کابلي سره همدا پوښتنې دي، چې حکومتي چارواکو تر اوسه نه دي ځواب کړې او دې حالت نور شکونه هم پیدا کړي دي.
خو افغانان او په ځانګړي ډول کابلیان باید ومني چې چسپکي ماینونه او چاودنې یې د ورځني ژوند برخه ده؟ د دې پېښو مخه نه نیول کېږي او آن د زیاتېدو وېره یې ده. حکومتي او نا حکومتي، سیاسي او غیرسیاسي، ملکي او نظامي، د حکومت ملاتړي او سیاسي مخالفت، هېڅوک خوندي نه دي. چارواکي په خپلو څرګندونو او دریځونو سره خلکو ته په غیر مستقیم ډول بیا بیا همدا پیغام ورکوي، چې چاودنې یې د ورځني ژوند برخه ده، څه ډول چې د کابل چټله هوا تنفس کوي، همداسې باید دا چاودنې هم وزغمي، پر خپلو مړو وژاړي، خاورې پر واړي، دعا وکړي او بس.

# د پېړۍ تر ټولو لوی دروغ او تر شا یې پټه توطیه




لیکنه: سپوږمۍ
ژباړه: لیلا
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریالانې

د کاناډا د بهرنیو چارو وزیر مارک ګارنیو د دغه هیواد د محافظه کاره ګوند په خاصه اشاره، څه موده وړاندې وویل چې د کاناډا حکومت په شینجیانګ کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه جدي اندېښنه لري او تمه یې ښودلې، چې شینجیانګ ته د یادې موضوع د څېړلو په موخه یو پلاوی ولیږي.
ورپسې د استرالیا د بهرنیو چارو وزیرې ماریس پېن پر چین غږ وکړ، چې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ څارونکو ته ژر اجازه ورکړي، چې له شینجیانګ څخه لیدنه وکړي.
د امریکا د بهرنیو چارو نوي وزیر انتوني بلینکن هم د ټرمپ د حکومت له هغې پرېکړې سره همغږي ښودلې، چې له مخې یې د چین حکومت په شینجیانګ کې نژادي تصفیه تر سره کوي.
د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاندې هوا چون اینګ د فبرورۍ په نولسمه په مطبوعاتي کنفرانس کې په دې اړه وویل، چې چین د شینجیانګ د رښتیني وضعیت په اړه هر اړخیز تفصیلي مالومات ورکړي، خو هغه څوک چې قصداً دروغ جوړوي، هغوی غوږ نیولو او منلو ته چمتو نه دي.
د کاناډا، امریکا او استرالیا په ګډون، د لوېدیځو هیوادونو ځینې سیاستوال، رسنۍ او کارپوهان د چین پر ضد ناوړه کړنې تر سره کوي، بې ځایه تورونه پرې لګوي او دروغ پرې وړتپي. چینایان په شینجیانګ کې د چین حکومت له لوري تش په نوم نژادي تصفیه او جبري کارونه د دې پېړۍ تر ټولو لوی دروغ او مسخرې بولي.
د لوېدیځو هیوادونو د چارواکو نیت ډېر شوم او خطرناک دی، ځکه دوی شینجیانګ ته بېځي نه دي تللي، خو د خپلو شخصي او سیاسي ګټو لپاره پر چین تورونه لګوي.
د چین د اړوند اداري مالومات ښيي، چې له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۸ کال پورې په شینجیانګ کې د اویغوریانو نفوس له ۱۰ میلیونو ۱۸۱ زرو او ۵۰۰ څخه ۱۲ میلیونو ۷۱۸ زرو او ۴۰۰ ته لوړ شوی دی.
په شینجیانګ کې د اویغوریانو له دغه نفوس څخه مالومېږي، چې په یاده موده کې د دغه قوم نفوس ۲ میلیونه ۵۴۶ زره او ۹۰۰ زیات شوی او د زیاتوالي انډول یې ۲۵ اعشاریه څلور سلنې ته رسیږي.
په شینجیانګ کې د اویغوریانو د نفوس د زیاتوالي انډول له ۱۳ اعشاریه ۹۹ سلنې څخه لوړ دی او نه یوازې د ټول شینجیانګ د نفوس له ۱۳ اعشاریه ۹۹ سلنې څخه لوړ دی، بلکې د ټولو لږکیو د نفوس د ۲۲ اعشاریه ۱۴ سلنې څخه هم لوړ دی او د هان قوم نفوس له ۲ سلنې څخه د پام وړ لوړ دی. ایا چا تر اوسه داسې نژادي تصفیه لیدلې؟
د جنوبي شینجیانګ په ځینو سیمو کې د بېوزلو کسانو شمېر ډېر دی، د ښاري کېدو پرمختګ پکې شاته پاتې دی او کاري فرصتونه هم پکې محدود دي، ځکه د چین حکومت ته دا یو ستونزمن کار دی، چې د فقر کمولو او کارموندنې په برخه کې د ځایي خلکو ټولې غوښتنې پوره کړي.
د شینجیانګ د بېلابېلو کچو حکومتونه د ټولو قومي وګړو کارونو، غوښتنو او اړتیاوو ته پوره درناوی کوي او د ټولو قومونو خلکو ته یې د کارموندنې په برخه کې فعال اقدامات تر سره کړي او کاري زمینې یې ورته برابرې کړې دي.
د شینجیانګ سیمه ییز حکومت د خپلو خلکو د خوشحاله ژوند په موخه هر وخت هڅه کړې، چې دوی له غربت څخه خلاص کړي. په شینجیانګ کې د ټولو قومونو د وګړو د کار او کارموندنې حق په بشپړ ډول خوندي دی او د ملي لږکیو ګومارنه داوطلبانه، خپلواکه او ازاده ده او هلته هیڅ جبري کارونه نشته.
په حقیقت کې په کاناډا، امریکا، استرالیا او نورو لوېدیځو هیوادونو کې«نژادي تصفیه» تر سره شوې، چې دا یو تاریخي حقیقت دی او هیڅوک ترې انکار نشي کولی.
د کاناډا حکومت د تېرې پېړۍ په اوومه لسیزه کې د دې هیواد د اصلي اوسېدونکو د ۱۵۰ زرو کورنیو هغه ماشومان، چې په ښوونځي کې د شاملېدو جوګه وو، په زور له خپلو کورونو واخیستل او بېلو ښوونځیو ته یې ولیږدول او هلته یې پر یادو ماشومانو انګلیسي ژبه زده کړه او عیسویت ته یې واړول او د کاناډا پر اصلي اوسیدونکو یې کلتوري یرغلونه وکړل.
د کاناډا حکومت د دې هیواد پر اصلي خلکو ډېر ظلمونه وکړل او د دوی پر وړاندې یې لوی جرمونه تر سره کړي دي. دغه خلک یې له خپلې ځمکې بې برخې کړل، د دوی کلتور او ژبه یې ورک کړل، نو ځکه د کاناډا اصلي اوسیدونکي پر ژور خپګان او نشه‌یي توکو روږدي دي او ان ځیني یې ځان‌وژنې کوي.
د کاناډا په زندانونو کې د دغه هیواد اصلي اوسیدونکي د ټولو بندیانو ۶۰ سلنه نیسي. د کاناډا د اصلي اوسیدونکو د ښځو او ماشومانو د وژل کېدو یا ورکیدو احتمال د دغه هیواد د نورو توکومونو په پرتله ۱۲ برابره زیات دی او د سپین پوستو مېرمنو بیا ۱۶ چنده دی.
د امریکا له جوړېدو کابو تر سلو کلونو وروسته د دغه هېواد بېلابېلو حکومتونو د «لوېدیځ خوځښت» په نوم هندیان ووژل او له دې سیمې یې وشړل. امریکا په دې وروستیو کلونو کې د تروریزم پر ضد د تش په نوم مبارزې او بشري حقونو په پلمه په عراق، سوریې، لیبیا او افغانستان کې جګړې وکړې او لسګونو زرو خلکو ته یې مرګ‌ژوبله واړوله.
هغه افغانانان چې په جګړه کې شکنجه شوي، په دې هر څه ښه پوهیږي.
امریکا د نړۍ یو له هغو هیوادونو څخه ده، چې بیولوژیکي جنګ یې پیل کړی دی. د استرالیا پخوانیو حکومتونو د دې هیواد د اصلي خلکو د وژنې او ورکېدو په موخه د "سپینې استرالیا پالیسي" تر سره کړه او د دې هیواد د اصلي اوسیدونکو له کورنیو یې سل زره ماشومان په زور جلا کړل، چې له امله یې دغه کورنۍ سره وپاشل شوې او خپل شناخت یې له لاسه ورکړ.
ځیني لوېدیځوال د چین داخلي چارو کې لاسوهنه کوي او هر وخت خپلو خبرو کې د چین په حق کې اشارې او لفظي بریدونه کوي.
په هر هیواد او هر ځای کې د هر وګړي ژوند باید خوندي وساتل شي، روغتیا ته یې پاملرنه او له وقار او ارزښتونو یې دفاع وشي. همدغه بشري او د انسان د ژوند اصلي حقونه دي، چې هیڅوک ترې انکار نشي کولی.
د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاندې هوا چون اینګ زیاته کړه، چې په امریکا، کاناډا او استرالیا کې ځیني سیاستوال اساسي حقایق له پامه غورځوي، له اخلاقي پولو اېخوا ګام اخلي او د چین د شینجیانګ په اړه دوامداره دروغ خپروي.
په حقیقت کې دوی غواړي چې د بشري حقونو د تش په نوم مسئلو په پلمه د چین په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي، د چین امنیت او ثبات ته زیان ورسوي او د چین د پرمختګ مخه ونیسي.
دا د پېړۍ تر ټولو لوی دروغ او تر شا یې لوی سازش دی!

## مېرکل: جرمني ځواکونه چمتو دي چې د ډېر وخت لپاره په افغانستان کې پاتې شي

د جرمني لومړۍ وزیره انګېلا مېرکل وايي، که اړتیا وه، جرمني ځواکونه چمتو دي چې د ډېر وخت لپاره په افغانستان کې پاتې شي. مېرکلد د مونیخ په امنیتي کنفرانس کې وویل: «د امریکا د متحدو ایالتونو له حکومت څخه مننه چې د افغانستان د سولې بهیر بیا ارزوي. که د جرمني موجودیت د دغه ماموریت په بري کې مرسته کوي او دا کار موږ په داسې یو دریځ دروي، چې په افغانستان کې ډیموکراتیک او سوله خوښ ځواکونو ته یو رښتینی فرصت برابر کړي، جرمني چمتو ده چې د ډېر وخت لپاره په افغانستان پاتې شي.»
دا په داسې حال کې ده چې امریکا د ۲۰۲۰ز کال په فبرورۍ کې له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړ. د تړون په اساس بهرني ځواکونه به د ۲۰۲۰ز کال تر مې میاشتې پورې له افغانستان څخه وځي، خو طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي، له القاعده سره اړیکې پرې کړي او له افغان حکومت سره د سولې مذاکرات پیل کړي.
اوس ناټو او امریکایي چارواکي وايي، طالبانو د تړون ژمنې نه دي پوره کړي. امریکا د دغه تړون بیا ارزول پیل کړي دي.
تر دې مخکې د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هایکو ماس هم ویلي وو چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ خبرې د مارچ تر میاشتې پورې نتیجې ته نه رسیږي او موږ باید د یو نوي ماموریت په ګډون مختلفو شرایطو ته چمتو واوسو.
اروپایي ټولنې او ناټو ویلي، چې په افغانستان کې د ماموریت په اړه تر هرې پرېکړې مخکې باید دا ډاډ ترلاسه شي چې دا هېواد به بیا د ترهګرو په ځالې نه بدلیږي، د ځواکونو وتل باید د شرایطو په اساس وي، تاوتریخوالی کم او دایمي اوربند وشي.

## جو بایډن: له ډیپلوماټیکو لارو د افغانستان د ۲۰ کلنې جګړې د پای ته رسېدو ملاتړ کوو

د امریکا ولسمشر جو بایډن وايي چې د نوموړي تر مشرۍ لاندې حکومت په افغانستان کې د ۲۰ کلنې جګړې ختمولو لپاره له روان ډیپلوماتیک بهیر نه په کلکه ملاتړ کوي.
د امریکا د ولسمشر په توګه تر ټاکل کېدو وروسته دا لومړی ځل دی، چې بایډن د افغانستان په اړه دا ډول نظر څرګندوي. نوموړي د ۲۰۲۱ کال د مونیخ امنیتي کنفرانس ته په انلاین ډول ویلي: «موږ ژمن پاتې کېږو، ترڅو دا ډاډ تر لاسه کړو چې له افغانستان څخه بیا هېڅکله د امریکا د ګټو او متحدینو پر وړاندې د تروریستي برید زمینه نه برابریږي.»
دا په داسې حال کې ده، چې د امریکا د دفاع وزیر لوېډ اسټین هم ویلي چې په افغانستان کې تاوتریخوالي باید ژر تر ژره کم شي. نوموړي زیاته کړې، چې په افغانستان کې د سولې بهیر کې پرمختګ او د امریکا د پوځي حضور پای ته رسېدل د طالبانو د بریدونو په کمولو پورې تړلي دي.
اسټین زیاته کړې: «موږ په مسوولانه او تلپاتې توګه د دغې جګړې پای ته رسېدو ته ژمن یو او غواړو ډاډ تر لاسه کړو، چې دغه اوږدمهاله جګړه په واقعي او تلپاتې توګه پای ته ورسېږي».
دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې امریکایي چارواکو ویلي وو، چې د امریکا-طالبانو ترمنځ د دوحې تړون چې د ۲۰۲۰ز کال په فبروري میاشت کې لاسلیک شو، له سره پرې کتنه کوي. د یاد تړون په اساس، باید تر راتلونکې مې میاشتې ټول امریکایي سرتېري له افغانستان څخه ووځي او ترڅنګ یې طالبان تاوتریخوالی کم او له ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې کړي.
د امریکا دفاع وزیر ټینګار کړی، چې مهمه نه ده د دغې ارزونې پایلې به څه وي، خو زیاته یې کړه چې امریکا به په بېړه او بې نظمه ډول له افغانستان څخه ونه وځي چې په وینا یې، د ناټو او نورو متحدینو اعتبار ته یې زیان ورسیږي.

# د وېرې او وحشت خپرول د اسلام خلاف او د منافقینو کار دی

لیکنه: محمد احسان

څرنگه چې ټولو ته جوته ده چې د افغانستان مظلوم او کړېدلی ولس له څلورو لسیزو راهیسې د یوې تپل شوې جگړې او د نورو د ناوړه موخو لپاره د یوې نامعلومې جگړې په اور کې سوځي او هره ورځ قرباني ورکوي؛ له بده مرغه چې دا لړۍ همداسې روانه ده او زمونږ د مظلوم ولس او د اسلام او انسانیت دښمنان د اسلام له نامه څخه په ناوړې گټې اخیستو سره زمونږ د ملت پر وړاندې له هیڅ ډول جنایت، تاوتریخوالي او بې رحمانه وژنو څخه ډډه نه ده کړې او د خپلو دغو جنایتونو تر څنگ یې تل هڅه کړې، څو د خپلو کاذبو او درواغجنو تبلیغاتو او شایعاتو په خپرولو سره زمونږ د ولسونو تر منځ د وېرې، وحشت او تاوتریخوالي څپې خورې کړي. حال دا چې الله تعالی د احزاب سورت په ۶۰م نمبر آیت کې د منافقینو او شایعه خپرونکو په اړه داسې فرمایلي دي: ژباړه: «که چیرې منافقان او هغه خلک چې په زړونو د هغوی کې مرض دی او په مدینه کې هسې هوایي خبرې کوي، نو خامخا به مسلط کړو مونږ تا پر دوی باندې، بیا به دوی پاتې نشي له تا سره په مدینه کې؛ مگر لږه موده.»

د پورته ذکر شوي آیت په تفسیر کې عکرمه (رض) وایي: «په دغه ځای کې له (هغوی) څخه مراد په مدینه کې زناکاران او شایعه جوړونکي دي، هغه دروغجن خبرونه چې د مسلمانانو د ضعف، بې وسۍ او جلاکېدو او پر هغوی د مشرکینو د غلبې ښکارندویي کوي، خپروي. له شک، نفاق او شایعه جوړونې لاس نه اخلي. بې له شکه به تا پر هغوی باندې مسلط کړو او ته به زما په دستور او فرمان سره هغوی وژنې او له منځه به یې وړې، څو وروسته له هغه هغوی په مدینه کې پاتې نشي، مگر لږه موده، ځکه چې زه تاسو ته دستور درکوم څو هغوی له مدینې وشړې.

هو دغه شایعه جوړوونکې او وېره اچوونکې ډلې په مدینه کې هغه خبرونه خپروي، چې کله به یې د مسلمانانو د ماتې، کله به یې د هغوی پر وړاندې د خپلې بریا او کله به یې هم په مدینه کې د مسلمانانو پر وړاندې د پراخې جگړې خبرونه خپرول، حال دا چې دغه ټول شایعات دروغ وو چې دغه ډول شایعاتو به د مسلمانانو زړونه ماتول او د هغوی پر روحیه به یې بده اغېزه کوله، چې الله تعالی د دغه آیت په نزول سره هغوی وگواښول.»

که څه هم دغه مبارک آیت په مدینه کې د منافقینو په اړه دی، خو حکم یې عام دی چې د اسلام پر دښمنانو سربېره زمونږ د مظلوم او کړېدلي ولس دښمنان هم په بر کې نیسي، څو له خپلو منافقانه اعمالو او شایعه خپرولو څخه چې د مسلمانانو په منځ کې د وېرې او وحشت د رامنځته کیدو سبب کیږي، لاس واخلي.

وسله‌والو مخالفینو د تېر په شان یو ځل بیا وروسته له هغه په داسې وېره اچوونکو خبرو او شایعاتو خپرولو لاس پورې کړی، چې ولس یې په خپلو ترهگریزو بریدونو او کړنو سره گواښلی. د دوی دا کار نه یوازې افغان ولس؛ بلکې نړیوال هم په کلکو ټکو غندي او د هغوی د مجازاتو غوښتنه کوي، څو نور دوی د خپلو دغو ناوړو اعمالو (هدفي وژنو، چاودنو، ځان وژونکو او دې ته ورته نورو ترهگریزو بریدونو) سزا ووینې او د نورو افغان دښمنو او جنایتکارو ډلو لپاره د عبرت سبب شي، ځکه چې د هغوی ټول اعمال د اسلام او انسانیت پر خلاف دي.

دلته ډېره مهمه خبره دا ده چې وسله‌والو مخالفینو د دغو وروستیو هدفي وژنو او جنایتونو مسوولیت په ښکاره پر غاړه نه دی اخیستی او هغه کله د حکومت او کله هم د ځینو نورو ډلو کار بولي؛ خو کله چې افغان ولس او نړیوالو د دغو جنایتکارانو د محکمې او اعدام غوښتنه وکړه، سمدلاسه ځینو وسله‌والو ډلو په یو نه یو ډول عکس العمل وښود او دغه کسان یې د خپلې ډلې وبلل او د هغوی په محکمه او اعدام کولو سره یې افغان ملت د ورته نورو ترهگریزو بریدونو په تر سره کولو سره وگواښه. نو دلته دا خبره په خپله راڅرگنده شوه چې د دغو وژنو تر شا د همدې وسله‌والو لاس دی.

همدارنگه د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) فرمایلي دي. ژباړه: «دا هېڅ مسلمان ته جایز نه ده چې خپل مسلمان ورور ووېروي او هغه په ډار کې واچوي.»

دغه وسله‌والې ډلې له یوې خوا په یو ډول د خبرو په درشل کې د خپلو شخصي گټو په موخه د ملي گټو او د افغانستان د ولس د غوښتنو پر خلاف عمل کوي او له بل لوري د اسلام ضد او انسانیت ضد کړنو په تر سره کولو سره زمونږ د کړېدلي ولس تر منځ د وېرې او وحشت په خپرولو سره غواړي، چې په افغانستان کې د نورو گټې خوندي ساتلو لپاره ځانونه واک ته ورسوي.

همدارنگه الله تعالی د قرآن عظیم الشان د نساء سورت په ۹۳یم آیت کې فرمایلي: ژباړه: «څوک چې یو مومن په قصد سره قتل کړي، د هغه سزا تلپاتې دوزخ دی او الله تعالی خپل عذاب پر هغه نازل کوي، هغه له خپل رحمت څخه بې برخې کوي او د هغه لپاره لوی عذاب دی.»

د اسلام ستر پیغمبر(ص) فرمایلي: ژباړه: «د مومن وینه تویېدل او د مومن آبرو او عزت له منځه وړل او د هغه پر مال تېری؛ د مومن لپاره حرام دی.»

خو له بده مرغه چې د اسلام او انسانیت دښمنان د پورته یادو شویو آیتونو او احادیثو پر خلاف هره ورځ زمونږ د مسلمان او مظلوم ولس پر مال، آبرو، حیثیت او وینې تویېدلو زړه نه سوځوي، چې د اسلام مقدس دین د دوی دغه ناوړه اعمال په کلکه غندي، ځکه چې هغوی په خبرو، اعمالو او کړنو کې د قرآن او سنتو پر خلاف عمل کوي.

دغه وسله‌وال دا باید په یاد ولري چې دوی په دغه ډول غیر اسلامي او انساني کړنو او گواښونو سره نه یوازې دا چې دوی به خپلو موخو ته ونه رسېږي؛ بلکې دغه ډول کړنې به یې یوازې ملت ته د دوی اصلي څېره چې د سولې او اباد افغانستان نه غوښتل دي، لا هم ښه روښانه کړي او بس.

# په چاودنو د اونۍ پیل؛

## په کابل ښار کې درې پرله‌پسې چاودنو پنځه کسه ووژل



کابل ښار د اونۍ په پیل کې د دریو خونړیو چاودنو شاهد و. په دې چاودنو کې پنځه کسه وژل شوي او ځینې نور ټپیان دي. له دې سره د راپورونو له مخې، د سلواغې میاشت په کابل کې له چاودنو او امنیتي پېښو ډکه میاشت وه. افغان چارواکي بیا تور پورې کوي چې دغه بریدونه د طالبانو له لوري او د طالبانو تر لارښوونه لاندې تر سره کېږي. په کابل کې بیا هېڅ وروستی برید طالبانو نه دی منلی، خو حکومت بیا وایي چې طالبان د سولې اراده نه لري او تاوتریخوالی یې نه دی کم کړی. پرون ورځ کابل ښاریانو په درنو چاودنو پیل کړه. لومړۍ چاودنه د شپږمې ناحیې اړوند د دارالامان پر سړک وشوه. په دغه سیمه کې مقناطیسي ماین پر یوه کرولا ډوله موټر پسې نښلول شوی و، چې د معلوماتو له مخې دوه کسه یې ټپیان کړي دي. عیني شاهدان بیا وایي چې د پېښې له امله یو کس وژل شوی دی، خو امنیه قومندانۍ په دې پېښه کې یوازې د دوو کسانو د ټپي کېدو خبر تایید کړی دی. دویمه چاودنه د کابل ښار د څلورمې ناحیې اړوند د کارته پروان په سیمه کې وشوه. په دې پېښه کې د یوې مېرمنې په گډون درې کسه وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی. درېیمه چاودنه بیا د کابل ښار د درېیمې ناحیې په پل وحدت سیمه کې شوې ده. د کابل امنیه قومنداني وایي چې په دې پېښه کې هم دوه کسه وژل شوي دي. تر اوسه د کابل ښار د یادو دریو چاودنو مسوولیت هېڅ لوري نه دی منلی او نه هم د کورنیو چارو وزارت په دې اړه معلومات ورکړي دي. د کابل پولیس د یادو پېښو د تایید تر څنگ وایي، چې په اړه به یې پلټنې کوي او وروسته به یې معلومات له رسنیو سره شریکوي. د کابل پولیس داسې مهال د پېښو د پلټنې خبره کوي چې په وروستیو کې نږدې هره ورځ په کابل ښار کې چاودنې کېږي؛ خو امنیتي ادارو د خپلو څېړنو او پلټنو پایلې له رسنیو سره نه دي شریکې کړې.


د رسنیو راپورونه ښیي چې تېره سلواغې (دلو) میاشت د کابل ښاریانو لپاره خونړۍ وه. د معلوماتو له مخې، په تېرو ۳۰ ورځو کې په کابل ښار کې ٦٦ امنیتي پېښې شوې دي. په دې پېښو کې ټولټال ۱۲٦ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. په دې موده کې ۳۹ چاودنې د ماینونو له امله، اته وسله وال بریدونه او ترورونه او ۱۹ جنایي پېښې رامنځ ته شوې دي. په دې پېښو کې ځینې مشهور شخصیتونه هم ترور شوي دي چې د ولس سخت غبرگون یې هم پارولی دی، خو سره له دې حکومت په دې نه دی بریالی شوی چې په دې پېښو کې کموالی راولي.

بلخوا د افغان حکومت لوړپوړي چارواکي بیا په دې باور دي چې طالبان د ټولو ترهگریزو فعالیتونو تر شا دي او په هېواد کې یې د ډېرو ترهرگرو ډلو لپاره د فعالیت زمینه برابره کړې ده. د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب پرون په خپلو وروستیو څرگندونو کې ویلي، چې دمگړۍ په افغانستان کې شاوخوا لس زره بهرني وسله وال د افغانانو پر وړاندې جگړه کوي، چې د دوی ټولو لپاره طالبانو زمینه برابره کړې ده.

حمدالله محب یو ځل بیا پر طالبانو غږ کړی چې له جگړو لاس واخلي. د هغه په خبره: «هغه طالبان چې افغانان دي له دوی غواړو چې سوله وکړي، جگړې ودروي او د خپلو هغو مشرانو لار تعقیب نه کړي، چې د نورو په اشاره جگړې ته ادامه ورکوي.»

د افغانستان د ملي امنیت رییس هم په خپلو تازه څرگندونو کې طالبان د جگړو د دوام لامل بولي او په خبره یې د دې ډلې تر فعالیت لاندې سیمو کې شاوخوا شل ترهگرې ډلې فعالیت کوي، چې ډېری غړي یې بهرنیان دي او د افغانانو پر ضد جگړه کوي. نوموړي پر طالبانو غږ کړی چې له تاوتریخوالي لاس په سر شي. طالبانو بیا د افغان چارواکو پر دې څرگندونو تر دې دمه غبرگون نه دی ښودلی.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیونو او ۴٦۵زرو کسانو واوښت




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۱ میلیونه او ۳۴۰ زره او ۸۷۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۴٦۵زره او ۵۹۳ کسان مړه شوي او له ۸٦ میلیونه ډېر تړې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۸ میلیونه او ٦۰۴ زره او ۷۱۹ ته رسېدلي او ۵۰۷ زره او ۷۵۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۹۸۲ زره او ۷۰۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۰ میلیونه او ۸۱ زره او ٦۹۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د څلور میلیونه او ۱۵۱ زره او ۹۸۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېتانیا د څلور میلیونه او ۹۵ زره او ۲٦۹مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته مهال د فرانسې، جرمني، امریکا، برېټانیا، ایټالیا، جاپان او کاناډا مشرانو خپله سرمشریزه له کرونا وبا سره د گډې مبارزې او نړیوالې همکارۍ د بیا ژوندي کولو په ټینگار پای ته ورسوله. د جي اووه سرمشریزه د برېټانیا په کوربه‌توب ترسره شوه.

د دې سرمشریزې په پرېکړه لیک کې ډاډ ښودل شوی، چې جي اووه په بې وزلو هېوادونو کې د واکسین د تطبیق د نړیوال کمپاین په چوکاټ کې څلور میلیارده ډالره نوره مرسته هم کوي.

په دې سره د کرونا وبا د واکسین د تطبیق لپاره د جي اووه له خوا د ټولو اعلان شویو مرستو اندازه اووه نیم میلیارد ډالرو ته ورسېده. د جرمني لومړۍ وزیرې انگېلا مېرکل ویلي، کرونا وبا به تر هغو ماته نه شي، چې ټوله نړۍ نه وي واکسین شوې. د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون هم وویل چې شتمن هېوادونه باید خپل څلور تر پنځه سلنه د واکسین ډوزونه څومره چې ژر ممکن وي، بې وزلو هېوادونو ته ورکړي.


## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

- لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
- ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه

**کابوکي**




دولت: جنرال صېب ستاسې خبرې په زړه پورې دي! ما چې له پاکستاني ملګرو سره خبرې کولې، پر دې د پوهېدو هڅه مې کوله چې په پاکستان کې به څه پېښېږي. په لندن کې مې پر دې موضوع له جنرال احسان سره خبرې وکړې. ده ویل چې کېدای شي عمران خان راشي. ما ویل، نه رښتیا؟ یو څو اونۍ وروسته ټولو ملګریو ویل چې د عمران د راتلو هېڅ چانس نشته.

له پاکستاني ملګریو مې اورېدلي دي، دوی وايي چې په ۲۰۱۸م کې خاقان عباسي د بیا ځلي لومړي وزیر کېدو لپاره فیورټ کس دی. ځکه پر پنجاب د مسلم لیګ (ن) ولکه ده، پنجاب د پاکستان په څلورو کې درېیمه برخه جوړوي ؛ نو پنجاب چې د چا په لاس کې وي همغه ټاکنې ګټي. پنجاب د مسلم لیګ په لاس کې دی، پیپلز پارټي همېشه یو څو سیټونه ګټي او عمران خان چې ډېر زور ووهي نو په لاهور او یو څو نورو لویو ښارونو کې به ایله یو څو سیټونه وګټي.

د میا صېب انتخاب عباسي دی. ما ملګري وپوښتل چې میا صېب ولې تر خپل ورور «شهباز شریف»، عباسي ته ترجیح ورکړه او دی یې لومړی وزیر وګوماره. دوی ویل چې عباسي به پر میا صېب له شا نه ګوزار و نه کړي.

سېنها: مطلب له نواز شریف سره دا اندېښنه وه چې ورور به یې پرې له شا نه ګوزار وکړي؟

دولت: که شهباز شریف پرې له شا نه ګوزار هم وکړي، نو خنجر به یې ډېر ژور نهځي. تاسو د پوځ خبره وکړه، زه دغې خبرې ته ډېر اهمیت نه ورکوم، جنرال صېب چې یې په اصطلاح اداراتي بولي، خو زه به ووایم چې اسټبلیشمنټ خوشاله دی. دا چې مسلم لیګ په واک کې دی او د خلکو عام ذهنیت دا دی چې عباسي خپله دنده ښه پرمخ بیایي، نو و دې شي چې په ۲۰۱۸م کې دی بیا لومړی وزیر شي. خو تور آس  بیا هم عمران خان دی.

دوراني: هو، ډېر هوښیار انسان دی، ځکه خو په کراتو مراتو دا خبره کوي چې زه د نواز شریف سیاستونه تعقیبوم.

سېنها: د هند په تړاو به یې نظر څه وي؟

دوراني: د میا صېب غوندې به نه وي چې د هند په یوه ټلیفون به تر ډیلي په منډه منډه ور خوشي و. د لومړي وزیر په توګه یې څو ورځې کېدلې، چا پوښتلي و چې په افغانستان کې د هند رول څه دی؟ ده ورته په ځواب کې ویلي و، صفر. دا نو بېله خبره ده چې شخصاً زما له انده هند په افغانستان کې یو رول لري. د عباسي د ځواب پیغام دا و چې دا نور د میا صېب کار نه دی.

دولت: جنرال صېب چې څه وايي دا د پاکستان له دننه څخه خبرې دي. تاسو په دنیا کې سیاست هم لیدلی او سیاستوال مو هم دي. په اوسنیو شپو ورځو کې عباسي، یوازې د میا صېب ځای ډک کړی دی. خو که په ۲۰۱۸م کې دی د پاکستان لومړی وزیر شي، نو بیا یې خپل واک وي او خپله خبره به یې وي. دا چې دغه مهال به بیا دی د هند پر وړاندې څه کوي او د امریکا پر وړاندې به یې غبرګون څه وي، دا هغه پوښتنې دي چې وخت به یې ځواب کړي. خاقان عباسي ښه هوښیار دی، لوستی انسان دی، انجنیر نه دی او پوه انسان دی.

سېنها: ټاکنې به کله وي؟

دولت: جنرال احسان خو ویل چې په اګسټ کې یې د کېدو امکان شته.

دوراني: هو، ځکه چې نوې سرشمېرنه باید وشي او ټاکنیزې حوزې باید مشخصې کړل شي.

دولت: عجلې ته اړتیا نشته. په پاکستان کې لا ډېر کارونه ناتمام پاتې دي. شریف کورنۍ، دویم ورور.

**۲۰**

ښه ټکانونه، هند- پاکستان

سېنها: آیا د دې دوه اړخیزو اړیکو مثبت څه شته چې یادونه یې وشي؟ یا داسې څه شته چې دواړو غاړو ته د منلو وړ وي؟

دوراني: زه به په لنډو کې د یو څو مثبتو خبرو یادونه وکړم چې د مثبتو تر څنګ داسې څه دي چې موږ یوې پایلې ته رسولای شي. اول د «سند» سیند د اوبو معاهده ده. که څه هم وخت ناوخت پر دغې معاهدې نیوکې کېږي، شکونه پرې څرګندېږي او د کمبودیو یادونه یې کېږي. زموږ پر شکایتونو سربېره پاکستانیان نه غواړي چې دغه معاهده ماته شي. هند یې ځکه ماتولای نهشي چې یو اړخیزه معاهده نه ده. دغه معاهده له اوږدې مودې راهیسې پر خپل ځای پاتې ده. **دوام لري...**

# عروج د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




عروج د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعیت لري، په ۱۳۸٦ کال کې یې د نیمه زده کړو په چوکاټ کې پر فعالیت پیل وکړ، چې د پیل پر مهال یې یوازې ښځینه محصلینې درلودې.

د یادې موسسې د اجرایوي رییس نورالرحمن طاهري په وینا، عروج د لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۹۰ کال کې د لوړو زده کړو موسسې ته ارتقاع وکړه او د پیل پر مهال یې د حقوقو او سیاسي علومو، اقتصاد او نړیوالو اړیکو پوهنځي درلودل.

د ښاغلي طاهري په وینا، عروج د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال هم په همدغو پوهنځیو کې فعالیت لري، خو له پخوا سره یې توپیر دا دی چې اوسمهال نارینه او ښځینه دواړه طبقې محصلین پکې پر زده کړو بوخت دي. نوموړی وايي چې د خلکو غوښتنو ته په کتو یې د نارینه او ښځینه محصلینو لپاره ځانګړي ټولګي په پام کې ونیول او په بېلو درسي ټایمونو کې یې ورته د زده کړو زمینه برابره کړه.

د عروج د لوړو زده کړو موسسې اجرایوي رییس نورالرحمن طاهري همدا راز وايي، دوی په حقوقو پوهنځي کې د قضا او څارنوالۍ او اداري او ډیپلوماسۍ ډیپارټمنټونه لري او په اقتصاد پوهنځي کې د اداري او تجارت، منجمېنټ او بانکدارۍ ډیپارټمنټونه لري.

ښاغلي طاهري زیاته کړه، عروج د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال ټول ۱۲۰۰ محصلین لري چې له دې ډلې یې ۴۰۰ ښځینه او پاتې نور یې نارینه محصلین دي.

د ښاغلي نورالرحمن طاهري په وینا، عروج د لوړو زده کړو موسسې له مختلفو پوهنځیو څخه تر دې دمه په پنځو دورو کې محصلین فارغ کړي دي، چې په دې کې څلور دورې ښځینه محصلینې او په پنځمه دوره فارغینو کې یې نارینه او ښځینه دواړه طبقې شاملې دي.

د عروج د لوړو زده کړو موسسې د اجرایوي رییس ښاغلي نورالرحمن طاهري په خبره، یاده موسسه دوه ډوله استادان لري چې یوه ډله یې دایمي او پاتې نور یې په قراردادي بڼه تدریسي چارې پر مخ بیایي.

د ښاغلي طاهري په خبره، د یادې موسسې د دایمي استادانو شمېر ۲۰ او د قراردادي استادانو شمېر یې بیا د ٦۰ په شاوخوا کې دی.

ښاغلي طاهري همدا راز وویل، عروج د لوړو زده کړو موسسه د ځینو ځانګړو موخو په بنسټ لکه حقوقي اړیکې، کتابتون، عدلي طب او کلینیک، د استادانو د علمي تجربو او نظریاتو د شریکولو او ډېرو نورو عملي موخو د لا پیاوړتیا لپاره په هېواد کې دننه او له هېواده د باندې له ډېرو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره اړیکې لري.

د ښاغلي طاهري په خبره، عروج د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره د موسسې دننه کتابتون لري او پر دې سربېره یې د نورو پوهنتونونو او د ښار له ډېرو کتابتونونو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي، چې پر بنسټ به یې د دوی محصلین د خپلو معلوماتو د لاسته راوړلو او مطالعې لپاره مراجعه ورته کوي. هغه زیاتوي، له دې ډلې په کابل ښار کې د اکسوس په نوم تر ټولو لوی کتابتون ته اشاره کولای شو چې د یادې موسسې محصلین کولای شي په پام وړ تخفیف سره ترې کتابونه تر لاسه کړي، مطالعه یې کړي او بېرته یې ورته وسپاري.

ښاغلی طاهري وايي، عروج د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره ډېرې اسانتیاوې لري، چې له دې ډلې کولای شو ښځینه محصلینو ته وړیا ټرانسپورټ، نارینه او ښځینه محصلینو ته په موسسه کې د ننه وړیا انټرنېټ او د لرې پرتو سیمو محصلینو ته د لیلیې خدمتونو ته اشاره وکړو.

د یادې موسسې اجرایوي رییس ښاغلي نورالرحمن طاهري همدا راز زیاته کړه، عروج د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو هرې طبقې ته ځانګړی تخفیف په پام کې لري، د بېلګې په توګه، د دولت برحاله کارکوونکو ته چې په عروج د لوړو زده کړو موسسه کې زده کړې کوي، له ۲۰ تر ۳۰ سلنه پورې تخفیف په پام کې لري او همدا راز هغه ډله محصلین چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه دی، تر ۵۰ سلنه پورې تخفیف ورکول کېږي او درېیمه هغه ډله محصلین دي چې وړتیا او لیاقت لري؛ خو د کمزوري اقتصادي وضعیت له امله خپلو لوړو زده کړو ته دوام نشي ورکولای، عروج د لوړو زده کړو موسسه په خپل هر سمیستر کې تر ۲۰ پورې دا ډول محصلین په وړیا توګه جذبوي، څو وکولای شي چې خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړي.

ښاغلی نورالرحمن طاهري وايي، که څه هم په لوړو زده کړو وزارت کې د فارغ شوو محصلینو د اسنادو پروسه له یو څه ځنډ سره مخ کېږي، خو عروج د لوړو زده کړو موسسې تر دې دمه خپلو ټولو فارغ شوو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي اسناد ورکړي دي.

د عروج د لوړو زده کړو موسسې اجرایوي رییس ښاغلي نورالرحمن طاهري وویل، د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ کوم ځانګړی توپیر نه لیدل کېږي، ځکه هغه لایحه چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا دولتي پوهنتونونو ته ورکول کېږي، همغه لایحه په خصوصو پوهنتونونو کې هم پلې کېږي او د همدې لایحې له مخې درسي چارې پر مخ وړل کېږي. یانې د لایحې او قانون له مخې دولتي او خصوصي دواړه پوهنتونونه په یوه سطحه کې دي او یاد قانون او لایحه چې یو ډول نصاب او درسي بهیر پکې شامل دی، په دواړو کې په ورته ډول عملي کېږي.

ښاغلی طاهري وايي، عروج د لوړو زده کړو موسسه د راتلونکي لپاره ځینې ځانګړي پلانونه په پام کې لري، د بېلګې په توګه، د هغو پوهنځیو تاسیس چې په بازار کې یې فعالیت او تجربې ته اړتیا ده، د ماسټرۍ پروګرام رامنځته کول او د شته پوهنځیو د درسي نصاب بیا کتنه چې له اړتیا سره سم به د پام وړ بدلونونه پکې راوستل شي.

د عروج د لوړو زده کړو موسسې اجرایوي رییس ښاغلي نورالرحمن طاهري زیاته کړه، دوی له دولت او لوړو زده کړو وزارت څخه د نورو خصوصي پوهنتونونو په څېر یوه عمده غوښتنه لري، چې هغه په هېواد کې د لوړو زده کړو لپاره د پام وړ شرایطو نه چمتو کول دي، چې باید جدي پاملرنه ورته وشي. د هېواد علمي مرکزونه د لوړو زده کړو لپاره د بهرنیو هېوادونو په څېر اسانتیاوې او امکانات نه لري، محصلین په پوره غور او ذهني فوکس سره درسي مطالب نه شي اخذ کولای او له اړتیا او غوښتنې سره سم درسي اسانتیاوې نه دي ورته برابرې شوې.

ښاغلي طاهري زیاته کړه، له لوړو زده کړو وزارت څخه یې غوښتنه دا ده چې د یاد وزارت لخوا خصوصي پوهنتونونو ته جوړ شوی قانون پر ټولو پوهنتونونو باندې په یو شان پلی کړي، لا ډېرې اسانتیاوې پکې رامنځته شي، نصاب ته یې پاملرنه وشي او په پوره غور سره یې څارنه وکړي، څو خصوصي پوهنتونونه له توپیري چلند څخه خوندي وي او ټولنې ته لا غوره خدمتونه وړاندې کړي.

# ولې به په راتلونکې کې په نړۍ کې ترهګریزې پېښې لا زیاتې شي؟

شننه: عبدالله لغماني

ممکن نړیوالې ترهګریزې پېښې او پر وړاندې یې مبارزه په راتلونکو کلونو کې لا پسې ډېره شي او شدت پیدا کړي. دا چې ولې به دا ترهګریزې پېښې زیاتېږي او لاملونه یې څه دي؟ یو ډېر اوږد بحث دی چې په یوه لنډه مقاله کې ټول په جزیاتو سره نشي خلاصه کېدای. خو موږ دلته له دې لاملونو څخه په یوه مهم او قوي علت خبرې کوو، چې تر نورو ډېر مهم او اصلي هغه دی.

له دې سببونو څخه یو لامل د هغو تورنو کسانو پر وړاندې چې په ترهګریزو پېښو کې نیول کېږي، د ناټو او په ځانګړې ډول د امریکا توند، سخت او بشري ضد چلند دی چې دوی یې له زندانیانو سره کوي. دا چې په دې برخه کې لکه د جنایي او نورو برخو د مجرمینو د بشري حقونو د ادارو او نورو هغو ادارو چې په جنګ او زندانونو کې د بشري قوانینو د عملي کېدو څارل یې پر غاړه دي، هغه ته لاسرسی ډېر کم دی او تر ډېره د دې ادارو لاسونه په دې برخه کې ورتړل شوي دي.

ځینې هغه کسان چې د ترهګرۍ په تور له زندانونو څخه په لوېدیځ خصوصاً امریکا کې خلاص شوي دي او عربي او د منځنۍ اسیا هېوادونو ته بېرته ستانه شوي، وايي چې په دې زندانونو کې پر دوی ډول ډول تجربې کېږي او د شکنجې او ځورونې بېلابېلې لارې چارې او درمل پرې ازمویل کېږي.

له زندانیانو سره له مرکو او خبرو اترو وروسته معلومه شوې ده چې یو له هغو څخه د داسې کیمیاوي موادو جوړې سپرې ګانې دي، چې زندانیانو ته ورشیندل کېږي او د دوی پر عصبي سیستم ډېره بده اغېزه کوي.

دا سپرې ګانې داسې یو تاثیر لري چې تورن کس ځای‌پرځای د څه مودې لپاره فلج کوي، لاسونه او پښې یې کار پرېږدي، ځای‌پرځای درېږي او د حرکت توان نه لري، ماغزه او حواس یې کار کوي او داسې فکر کوي چې ګویا د تل لپاره فلج شوم، که ولاړ وي غورځي او له ډېر کوچني حرکت څخه هم لوېږي.

که څه هم د داسې موادو او سپرې ګانو کارول په نړیوالو اصولو او قوانینو کې جرم دی او بشري ضد کړنه ده، خو بیا هم ناټو په ځانګړې ډول امریکا دا کار په پټه کوي او له تورنو زندانیانو څخه د اعتراف او معلوماتو او یا هم ځورونې لپاره له دې او دې ته ورته کارونو څخه کار اخلي.

دوی همدارنګه د PAVA spry په ډول سپرې ګانې هم کاروي چې د سترګو د موقتي ړوندوالي لامل کېږي او یا د سترګو په سخت درد اخته کېدو وېره لري.

دا سپرې ګانې په هغو ځایونو کې چې د تودوخې لوړه درجه لري، ډېرې زیان رسوونکې تمامېدلی شي او له بشري او انساني حقونو څخه د یوې ښکاره سرغړونې په توګه پېژندل کېږي.

له زندانیانو سره د دې ډول کړنو تر ټولو ستر مرکز د امریکا د ګوانتنامو په ټاپو کې د امریکایانو زندان دی، چې له ټولې نړۍ څخه په ترهګریزو پېښو کې تورن کسان امریکا همدې ځای ته انتقالوي.

له دې زندان څخه له خلاص شویو زندانیانو څخه چې د منځني ختیځ، افریقا، افغانستان او منځنۍ اسیا اوسېدونکي دي، ځینو یې رسنیو ته ویلي چې پر دوی ډول ډول تجربې کېدلې او د وژونکو او ځورونکو درملو د یوه لابراتواري توکي په توګه کار ترې اخیستل کېږي.

ان داسې درمل او پیچکارۍ هم ورکول کېدلې چې تورن کس داسې فکر کاوه چې یو څو ثانیې وروسته مړ کېږم، د بدن ډېر غړي یې د څو شېبو لپاره کار پرېږدي او زنداني فکر کوي چې ډېره په سخته ساه باسي او وايي چې د ژوند وروستۍ شېبې یې دي، خو ډاکټران یا د زندان مسوول کسان یې د نورو درملو په ورپیچکارۍ کولو سره بېرته په څه وخت کې عادي حالت ته راولي. یانې په یو ډول پر دې کسانو باندې تجربې او د وژونکو او ځورونکو درملو تجربې کېږي، چې کومې یې اغېزناکې او کومې یې بیا دومره اغېزناکې نه دي.

ځینې کسان چې له دې حالت وروسته ازادېږي او خپلو هېوادونو ته راځي، د داسې شکنجو له امله چې پر دوی باندې شوې دي، ان که له پیل څخه ترهګر او ورانکاري نه وي هم، په دې ډول ورانکاریو پیل کوي او فکر کوي چې په زندان کې یې څو څو ځلې مرګ په خپلو سترګو تجربه کړی دی او تر زندان نور بد حالت نشي پرې راتللی او په یو ډول له روغ انسان څخه عقده‌یي انسان جوړوي.

امریکا په خپلو دې کړنو سره روغ او بې ازاره خلک ترهګریزو کړنو ته هڅوي او فکر کوي چې په دې ډول کارونو به د ترهګرۍ مخه ونیسي؛ خو د مخنیوي پر ځای د یوه پر ځای لس او د لسو پر ځای سل کسان نور هم له زندانیانو څخه د دې ځورونکو خبرو په نتیجه کې لا پسې ډېرېږي.

زندانیان په خوب کې ځورول کېږي، څو ورځې مسلسل خوب ته نه پرېښودل کېږي او له زندانیانو څخه زامبیان جوړ کړي چې هر ډول خبرو ته چې د مستنطقینو زړه وي، اقرار وکړي.

د ازبکستان یو بندي چې احمد جباروف نومېږي، انټرفاکس خبري اژانس ته په خپله مرکه کې وايي، چې ما ولیدل چې څنګه بندیان وهل او فزیکي ځورول کېدل؛ خو له ټولو ناوړه دا وه چې ما ته خپله د ناروغانو سپینه چپنه را واغوستل شوه او د تحقیقاتو په جریان کې یو ډول ناپېژندل شوي کیمیاوي مواد راپیچکاري شول.

دوی وپوهېدل چې که ما له دې زیات ووهي یا له دې سختې شکنجې هم راکړي، دوی ته څه په لاس نه ورځي او په ما د اعتراف لپاره هیڅ هم نشي پیدا کولای؛ دوی ما ته یو ډاکټر را وغوښت او هغه ما ته په رګ کې پیچکاري راکړه. د وهلو له امله مې چې بدن څومره درد کاوه، هغه ورک شو؛ خو یو دم ما احساس وکړ چې زما پښې فلج او بې حسه کېږي او ما په خپل بدن کنټرول له لاسه ورکړ. حتی نشوای مې کولای چې خپله ژبه وخوځوم. د ساه اخیستل راته ډېر سخت شول، مګر دماغ مې په بشپړ ډول وینښ او بیدار و. ما هر څه لیدل او پرې پوهېدم. په دې حالت کې چې تاسو حرکت نشی کولی، مګر پر هرڅه پوهیږئ، ډېر سخت او ستونزمن دی. ما فکر کاوه چې زه به د ژوند تر اخره معلول پاتې شم. نور زه په ځان نه یم پوه شوی، خو یو وخت چې رابیدار شوم چې یو څوک مې په دهلیز کې د کش کولو هڅه کوي، دوی زه د زندان له شفاخانې څخه خپل قفس ته وړلم.

جباروف په مرکه کې زیاتوي چې هلته له ډېرو عربو او نورو خلکو سره دا کار کېده او چیغې او بد بد اوازونه به یې زما تر قفس پورې را رسېدل او ما فکر کاوه چې هغوی به حتماً د دردونو او وهلو له امله مړه شوي وي.

که څه هم امریکا په نړیواله میډیا کې چیغې وهي چې دا ډول کارونه دوی نه کوي او په زندانیانو داسې درمل کارول یو جنګي جنایت ګڼي؛ خو رښتیا دا دي چې د امریکا دې کارونو د دوی پر وړاندې د دښمنۍ لمبې په خپله پورته کړې دي او په دې بشري ضد کړنو سره له جنګي اصولو څخه ښکاره سرغړونه او تېری کوي.

## د بشري حقونو کمېسیون: حکومت دې عامو افغانانو ته د ژوند لومړنۍ اسانتیاوې برابرې کړي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون له افغان حکومت غواړي چې عامو وګړو ته د ژوند لومړنۍ اسانتیاوې برابرې کړي. دغه کمېسیون تېره ورځ د ټولنیز عدالت غوښتنې نړیوالې ورځې په مناسبت ویلي، چې سولې ته د رسېدو لپاره باید ټولنیز عدالت مراعات شي.

د یاد کمېسیون په اعلامیې کې راغلي: «د بشري حقوقو خپلواک کمېسیون له دولت نه غواړي، چې عامو خلکو ته باید لومړنۍ اسانتیاوې؛ لکه د ښناک اوبه، برېښنا او د بېځایه شویو اړتیاوې پوره کړي او فقر له منځه یوسي.»



دغه کمېسیون وايي، چې دا اسانتیاوې باید سن، مذهب او جنسیت ته په کتو نه وي او ټول په مساوي توګه ترې برخمن شي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په داسې حال کې د لومړنیو اسانیتاوو برابرولو خبره کوي، چې حکومت په وینا، تر ټولو ډېره هڅه یې د سولې ټینګښت دی.

د حکومت او طالبانو پلاوي د قطر په دوحې کې له څو میاشتو راهیسې په بین الافغاني خبرو بوخت دي، خو عام خلک یې لا هم عملي پایلو ته اندېښمن دي. له بلې خوا د راپورونو پر بنسټ، له ۵۰ سلنې ډېر افغانان په فقر کې ژوند کوي او ۴۴ سلنه یې صحي خوړو ته لاسرسی نه لري.

ملګرو ملتونو د ۲۰۱۹ز کال په راپور کې ویلي وو، چې لږ تر لږه ٦،٣ میلیونه افغان ماشومان بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. دغه کچه د کرونا اوبا او د جګړې دوام ته په کتو، په ۲۰۲۰ز کال کې نوره هم لوړه شوه.

## د امریکا سنا: له افغانستانه په بېړه د سرتېرو ایستل به نیابتي جګړې ته لاره هواره کړي

د ملي امنیت په اړه د امریکا د سنا یوې فرعي کمېټې ویلي، که امریکایي ځواکونه له افغانستان وځي، نو ښایي دغه هېواد د پاکستان او هند ترمنځ د نیابتي جګړې پر ډګر بدل شي.

یادې کمېټې پر هغه راپور بحث کړی و، چې د امریکا د سنا په لارښوونه جوړ شوی دی. د ملي امنیت په اړه په بحثونو کې دغه کمېټې ویلي چې په افغانستان کې باید د سولې روانه پروسه چټکه کړل شي او د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ دې مانا لرونکي



مذاکرات پایلې ته ورسول شي. د دوی په خبره، په بېړه د سرتېرو ایستل نه یوازې دا چې د افغانستان او امریکا لپاره ګټور نه دي، بلکې په ټوله سیمه کې به د نا امنۍ، نیابتي جګړو، نښتو، ترهګرو شبکو د ودې او په افغانستان کې د کورنۍ جګړې سبب شي. د امریکا سنا د ملي امنیت دغه فرعي کمېټه د دې غوښتونکې ده، چې افغان جګړه دې ژر تر ژره د خبرو له لارې ختمه کړل شي او تر هغه وروسته دې بهرني سرتېري له دغه هېواد و ایستل شي.

د امریکا سنا داسې مهال یادې خرګندونې کوي چې تازه د یاد هېواد د دفاع وزیر لوید اسټین هم ویلي چې له افغانستانه د سرتېرو په ایستلو کې بېړه نه لري. نوموړي دغه راز ویلي چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي کچه ډېره لوړه ده او له طالبانو یې غوښتي چې له تاوتریخوالي لاس واخلي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷.۴۰ |
| € | ۹۳.۸۰ |
| Rp. | ۴۸۵ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٦.۹ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د کب دربیمه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۱مه | ٦٨٣یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۱۸ | ۲٦ | ۱۴ | ۲٦ | ۱۷ |
| ۷ | ٤ | ۱۲ | ۷ | ١٤ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۳ | لمر ختل ۰٦:۳۷ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۵۹ | ماښام ۰۵:۳۸ | ماخوستن ۰۷:۰۳


## نړۍ



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیونو او ۴٦۵زرو کسانو واوښت

۳

## سلیوان: له ایران سره د اټومي تړون په اړه ډیپلوماټیک حل ناشونی دی



د امریکا او ایران ترمنځ د اټومي تړون پر سر د ناندریو په دوام، د امریکا د ولسمشر جو بایډن د ملي امنیت سلاکار جک سلیوان ویلي، چې د امریکا دولت له ایران سره د اټومي تړون په اړه د ډیپلوماټیک حل امکان نه ویني.

نوموړي له سي ان ان سره په تازه مرکه کې ویلي، چې د بایډن اداره له ایران سره د اټومي تړون ډیپلوماټیک حل امکان نه ویني؛ ځکه چې د ده په خبره، اوسمهال دوی په لومړنۍ مرحله کې دي او په دې مرحله کې د ایران شرطونه د منلو نه دي.

هغه ټینګار کړی، چې که ایران غواړي دوی ورسره شوي تړون ته بېرته راوګرځي، نو باید په دې برخه کې نرمښت وښيي. د یادونې ده چې ایران په وار وار ویلي، چې د تړون په اړه تر خبرو مخکې باید پر دغه هېواد لګول شوي بندیزونه له یوې مخې لرې کړل شي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا نوي ولسمشر ټرمپ واک ته له رسېدو سره سم ویلي وو چې که ایران د نړۍ له قدرتونو سره د شوي تړون ټولې ژمنې عملي کړي، دوی چمتو دي چې دغه تړون ته بېرته راوګرځي.

## راپورونه: امریکا پر روسي چارواکو تازه بندیزونه لګولي دي

امریکا پر هغې روسي بېړۍ او د بېړیو پر خاوند بندیزونه لګولي، چې له روسیې څخه جرمني ته د طبیعي ګازو د نل‌لیکې نارد ستریم ۲ پر جوړولو کار کوي، خو د حکومت دا اقدام د کانګرېس د جمهوریپالو استازو له جدي نیوکې سره مخ شوی او هغه یې ناکافي بللی دی. بندیزونه د بهرنیو چارو وزارت له لوري کانګرېس ته په یوه راپور کې وړاندې شوي دي.

دوو جمهوریپالو استازو اعلان کړی، چې حکومت پر نورو هدفونو د بندیزونو په لګولو کې پاتې راغلی دی. دوی له حکومته غوښتي، چې په دې اړه وضاحت ورکړي، چې د پایپ لاین د جوړېدو د مخنیوي لپاره څه اقدامات کوي.

په سنا جرګه کې د جمهوریپال ګوند د ټکزاس ایالت استازي مایکل مک کال وویل، پر مخکنیو برخو یو څه نور بندیزونه کافي نه دي، د استازو هدف نه پوره کوي او د نللیکې د جوړېدو مخه نه نیسي.

هغه په ورته مهال ویلي، که پرېښودل شي چې دا نل لیکه جوړه شي، دا به له دې پرته چې د ولادیمیر پوتین لپاره یو بری وي، بل څه نه وي. بل جمهوریپال سناتور جیم ریش د مک کال څرګندونې تایید کړې، ویې ویل چې په کانګرېس کې دواړو ګوندونو د پایپ لاین د جوړېدو په اړه ګڼې لایحې تصویب کړې دي.

## وزارت داخله: دوازده کارمند وزارت شهرسازی به اتهام فساد بازداشت شده‌اند



وزارت داخله می‌گوید که دوازده تن از کارمندان وزارت شهرسازی به‌شمول رئیسان عمومی مالی و اداری و تدارکات این وزارت به اتهام فساد بازداشت شده‌اند. به‌گفتۀ وزارت داخله این افراد به اتهام حیف و میل میلیون‌ها افغانی در پروژه‌های وزارت شهرسازی بازداشت شده‌اند.

میرویس ناصری، سخن‌گوی وزارت شهرسازی در این باره گفت: « پولیس مبارزه با جرایم سنگین تعدادی از کارمندان وزارت شهرسازی و اراضی را برای اخذ معلومات بیشتر در خصوص موضوعاتی که تحت بررسی شان قرار دارد با خود بردند.»


این در حالیست که هفته گذشته والی ننگرهار از بازداشت رئیس گمرک ننگرهار و پنج تن دیگر به اتهام فساد خبر داد؛ اما اکنون والی ننگرهار می‌گوید که رئیس گمرک این ولایت آزاد شده‌است: «ادارۀ جرایم سنگین مکلف است که در این باره به مردم افغانستان وضاحت بدهد که به کدام دلایل آن‌ها رابردند و چگونه آنان را رها کردند.»

اما، عبدالصبور قانع، معین وزارت داخله دیروز در یک نشست خبری در کابل رهایی رییس گمرک ننگرهار را رد کرد: «در مورد ننگرهار رئیس (گمرک) رها نشده به تحقیق حاضر شده، تحقیق می‌دهد و قوانین تطبیق می‌شود.»

شماری از اعضای شورای ولایتی و شورای ملی، حکومت را در کار مبارزه با فساد به برخوردهای سیاسی و سلیقه‌یی متهم می‌سازند. عبدالستار حسینی، نماینده مردم فراه در ولسی جرگه بیان داشت: «اگر رئیسان گمرک دست به فساد نزنند کارمندان زیردست آن‌ها به هزار سال نمی‌توانند دست به فساد بزنند.»


## ژوند

## سامسُنګ پیاوړې بېټرۍ لرونکی موبایل معرفي کړ



سامسُنګ کمپنۍ خپل د ایم (M) لړۍ نوی ځیرک موبایل چې ګلکسي ایم۱۲ نومول شوی، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل به پیاوړې بېټرۍ او اګزینوس پروسېسر ولري. سامسُنګ کمپنۍ تر اوسه د دغه ځیرک موبایل د بیې او خرڅلاو ته وړاندې کېدو په اړه څه نه دي ویلي. ګلکسي ایم۱۲ به د سامسُنګ کمپنۍ اګزینوس۸۵۰ ډوله پروسېسر، ٦/۴/۳ ګیګابایټ رم او ۱۲۸/٦۴/۳۲ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بنې ولري. دغه ځیرک موبایل کې ٦,۵ انچه ایچ ډي پلس او ۷۲۰*۱٦۰۰ پکسله ریزلوشن لرونکې مخ‌پاڼه ورکړل شوې ده. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي کامره، ۵ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل کامره، ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر او ۲ مېګاپکسله مکرو کامره هم پکې شامله ده. مخکینۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه ځیرک موبایل یو له مهمو ځانګړنو څخه دا ده، چې ٦۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې له ۱۵ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي.

## مهرباني مو ژوند بدلوي



د ژوند کولو د ډول او یا ژوند ته د کتلو د ډول بدلون کېدای شي تاسو ووېروي. د الډس هاکسلي Aldous Huxley په نوم یو انګلیسي لیکوال د ژوند د بدلولو په تړاو وایي: خلک ډېر کله له ما پوښتنه کوي چې د ژوند د بدلون لپاره تر ټولو اغېزناک تکنیک او لاره څه ده؟ یو څه خجالت کېږم چې له کلونو څېړنې او ازمایښتونو وروسته ووایم چې تر ټولو غوره لاره یې دا ده چې یو څه مهربانه اوسئ. د هاکسلي د اوږدو څېړنو پایلې جدي ونیسئ او پرېږدئ چې مهرباني ستاسو ژوند بدل کړي. پرېږدئ چې مهرباني مو پر ټولو اعمالو او ان منفي ځانګړنو لکه تاوتریخوالي، کرکې، رټلو، غوسې، وېرې او کم ګټلو باندې برلاسې شي او هغه ځواک چې د ناهیلۍ له امله له منځه تللی و، یو ځل بیا را ژوندی کړي. مهرباني یوازې د هغې پر اغېزو پورې محدوده نه ده، بلکې د ژوند کولو د سبک او طریقې ټاکل دي. مهرباني هغه موزون اهنګ او زمزمه ده چې له یوه یوه هغه څه سره چې وایئ او تر سره کوئ یې، ترکیب شوې او یو ځای شوې ده.



د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af 1515
عزیزی بانک
Azizi Bank